# دافغانستان دماین پاکی پروګرام

## د ۲۰۰۹ زیږدیز کال دډسمبر میاشتې خبر پاڼه

## دمعلولیت لرونکو وګړو نړیواله ورځ دافغانستان دماین پاکي چارو دهمغږي مرکز په مالي مرسته ولمانځل شوه

دافغانستان دولت د ۲۰۰۹ زیږدیز کال دډسمبر دمیاشتې په نهمه نیټه دمعلولیت لرونکو وګړو نړیواله ورځ ولمانځله چې مالي لګښت يې دافغانستان دماین پاکي چارو دهمغږي مرکز له خوا ورکړ شو.

دمعلولیت لرونکو وګړو دنړیوالې ورځې دلمانځلو غونډه دقران کریم دځو آیاتونو په لوستلو سره پیل شوه چې وروسته دمعلولیت لرونکو ماشومانو دښوونځي دزده کوونکو له خوا دافغانستان ملي سرود داشارې په ژبه اجرا شو.

دافغانستان په جمهوري ریاست کې سلاکاره آغلې آمنې آفضلي ددې ورځې په اړوند دجمهور ریس پیغام ولوست چې پکې راغلي: " زموږ په ګران هیواد کې دمعلولیت لرونکو وګړو دنړیوالې ورځې لمانځل، ټولو دمعلولیت لرونکو وګړو ته ویاړ وربښي. په هیواد کې ډیره معلولیت دځو لسیزو جګړو زیږنده ده چې اوس موږ زیار باسو تر څو د لا زیاتو معلولیتونو مخه ونیسو. زه دمعلولیت په برخه کې دټولو اړوندو ارګانونو څخه هیله کوم تر څو په هیواد کې دمعلولیت اړوند چارو ملاتړ وکړي او دمعلولیت لرونکو وګړو ته دژوند ټولې اسانتیاوې برابرې کړي. "




ډاکټر محمد حیدر رضا دافغانستان دماین پاکي چارو دهمغږي مرکز ریس د معلولیت لرونکو وګړو دنړیوالي ورځې دلمانځني په ورځ دبیاني ورکولو پر مهال

ډاکټر محمد حیدر رضا، دافغانستان دماین پاکي چارو دهمغږي مرکز ریس دملګرو ملتونو او دافغانستان دماین پاکي پروګرام په استازیتوب وویل : "زه دا منم چې ستونزې شته او دمعلولیت لرونکو وګړو درد احساسوم . موږ باید سخت کار وکړو تر څو دمعلولیت لرونکو وګړو ته دټولو اسانیاوو برابرولوموخو ته ورسیږو. "

دکار ، ټولنیزو ، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیالې آغلې ثریا پیکان هم خپله وینا واوروله چې په ترڅ کې يې دکال شعار "په نړی کی د معلولیت لرونکو وګړو او د هغوی د ټولنو خواکمنول د دریمی زریزی موخو په رڼا کې "ته په اشارې سره دوزارت له اړخه دمعلولیت لرونکو وګړو دحقونو او دهغو ې دامتیازاتو دساتنې ژمنه بیان کړه.

ددې غونډې په ترڅ کې یو شمیر دولتی چارواکو، دمشرانو جرګې استازي او دغیر حکومتی موسسو استازو خبرې وکړې. دوی دځپلو خبرو پر مهال د۱۹۶،۰۰۰معلولیت لرونکو ماشومانو ته دزدکړو داسانتیاوو دنه شتون تر څنګ یو لړ نورو موضوعاتو ته په اشارې سره څرګنده کړه چې دداسې ستونځو حل ددولت او نورو موسساتو ګډ مسولیت دی.




زده کوونکي د اشارې په ژبه دملي سرود داجراکولو پرمهال



چمتو کوونکی : دافغانستان دماین پاکی چارو دهمغږي مرکز، دافغانستان دماین پاکی دپروګرام په استازیتوب .

# دنوزاد ولسوالی به ډېر ژر دماینونو او نورو نا چاوده توکو له شتون څخه پاکه شي

د ۲۰۰۹ زیږدیز کال دډسمبر دمیاشتې دوروستی اونی په ترڅ کې له ماینونو څخه داغیزمنو شویو سیمو دارزونې ټیمونه دهلمند ولایت نوزاد ولسوالی ته ولیږل شو ل، تر څو په هغه ولسوالی کې په ماینونو دککړو سیمو اړوند رپوټونه وڅیړي. څه موده وړاندې نوموړې ولسوالی دشورشي بریدونو مرکز و او دسروي ټیمونو لپاره ناشونې وه چې هلته سروې وکړي.

دام سی پی اي ، ډافا او ام ډي سي موسسو استازي له ماینونو څخه داغیزمنو شویو سیمو دارزونې ټیمونو سره یو ځای په نوموړې ولسوالی کې دستونزې دکچې دمعلومولو په موخه دپولیګان سروې تر سره کوي.

دنوزاد ولسوالی دولسوال دڅرګندونو له مخې ، په دې وروستیو کې د ماینونو دچاودنو له کبله ۷ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړی چې درې تنه یې ماشومان وو. دډافا موسسې دچاودیدونکو توکو دله منځه وړلو یو ټیم چې په لشکر ګاه کې په کاربوښت و ، دبیړنیو مرستو په موخه به سیمې ته واستول شي. نوموړی ټیم به له نویو ځای پرځای شویو چاودیدونکو توکو سره دمحتاطانه چلند تر څنګ په سیمه کې دنا چاوده توکو دپاکولو عملیات پیل او داړتیا پرمهال به دلومړیتوب له مخې دماینونو دخطر ځینې سیمې هم پاکې کړي.





دافغانستان دماین پاکي چارو دهمغږي مرکز دعملیاتو دڅانګې ریس په دې وروستیو کې دهلمند ولایت ته یو سفر درلود چې په هلته یې په یوې غونډه کې برخه واخیستله چې دنوزاد  له ولسوالی څخه دماینونو پاکولو په موخه جوړه شوې وه.

په دې غونډه کې دهلمند ولایت دولتي مقاماتو ، په هلمند کې میشت دبهرنیو ځواکونو استازو او دنوزاد ولسوالی استازو برخه اخستې وه. دغونډې په ترڅ کې برخه اخستونکو ددې ولسوالی لپاره د سیمې د خلکو له خوا دماین پاکولو دشیوې غوښتنه وکړه.

هغه سړک چې دنوزاد ولسوالی له مرکز سره نښلوي لا تراوسه مسون نه دی خو دولسوالی مرکز دماین پاکي چارو دپیل لپاره مناسب ښودل شوی دی. کله چې په نوموړې ولسوالی کې دپولیګان سروې بشپړه شي نو ډېر ژر به په هغه سیمو کې چې لومړیتوب لري دماین پاکولو چارې پیل شي.

## د ۲۰۰۹ کال له جنوري څخه تر ډسمبر پورې دماین او ناچاوده توکو پېښې

| میاشت | ۱۸ کلن او له دې څخه کوچنیان | | له اتلس کلونو څخه لویان | | نامعلوم | ټول ټال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | | |
| جنوری | 16 | 0 | 14 | 0 | 0 | 30 |
| فبروری | 30 | 5 | 17 | 1 | 0 | 53 |
| مارچ | 37 | 0 | 14 | 0 | 0 | 51 |
| اپریل | 22 | 5 | 15 | 1 | 0 | 43 |
| می | 33 | 9 | 24 | 8 | 0 | 74 |
| جون | 10 | 5 | 17 | 0 | 0 | 32 |
| جولای | 23 | 6 | 20 | 6 | 1 | 56 |
| اگست | 12 | 2 | 9 | 1 | 0 | 24 |
| سپتمبر | 14 | 2 | 11 | 5 | 0 | 32 |
| اکتوبر | 15 | 2 | 10 | 0 | 0 | 27 |
| نومبر | 4 | 1 | 12 | 4 | 0 | 21 |
| ډسمبر | 19 | 1 | 7 | 1 | 0 | 28 |
| **ټوله مجموعه** | **235** | **38** | **170** | **27** | **1** | **471** |

## په افغانستان کې دماین پاکولو موخې

**داوتاوا پریکړې :**

* تر ۲۰۱۳ زیږدیز کال پورې په بشپړه ټوګه د پرسونل ضد ماینونو پاکول.
* تر ۲۰۰۷ زیږدیز کال پورې دپرسونل ضد ماینونو دزیرمو له منځه وړل.
* افغانانو ته دماین دخطرونو په اړه دزده کړو ورکول او له ماین ځخه اغیزمنو کسانو سره مرسته .
* **دافغانستان (Compact ) ژمنې :**
* هغه سیمې چې په ماینونو اوله جګړوپاتې ناچاوده توکو ککړې دي د۲۰۱۱ کال دمارچ تر میاشتې په په سلو کې ۷۰ پاکې شي .
* دپرسونل ضد ماینونوزیرمې به د ۲۰۰۷ زیږدیز کال دمارچ تر میاشتې په بشپړه توګه له منځه ویوړل شي.

**د پرسونل ضد ماینونو دزیرمو له منځه وړل:** افغانستان داوتاوا دپریکړو دخلورمې مادې له مخې چې د ۲۰۰۷ زیږدیز کال داکتوبر په میاشت کې به دهیواد په کچه د پرسونل ضد ماینونوټولې زیرمې له منځه وړې ترسره کړه .

## هغه کلیدي ټکي چې په افغانستان کې دماین په اړه دموخو دترلاسه کولو په برخه کې مرسته کوي .

* د شته ظرفیتونو ساتنه.
* په ټولنو کې دځلکوله خوادماین پاکولو دپروګرام پراختیا.
* د ماین پاکۍ دځانګړو پروژو پروګرام .
* د موسساتو او دماین پاکي کمپنیو له خوا د آزادو سیالیو له لارې دماین پاکي دچارو پر مخ بیول.
* دماین پاکي دموخو دلاس ته راوړلو لپاره دکافي بودیجې برابرول .

## دموخو دترلاسه کولو په وړاندې ستونځې

*دافغانستان دماین پاکۍ چارو دهمغږۍ مرکز باید دافغانستان دژمنې او داوتاوا دکنوانسیون دپریکړو موخو ته درسیدو لپاره په خپلو مالي سرچینو کې زیاتوالی راولي. ددغو پیسو ورکړه باید له وړاندې تر سره شي په دې معنی چې پیسې باید دکال له پیل ځخه وړاندې پروګرام ته ورکړ شي تر څو له هغه ځخه په سمه توګه ګټه پورته شي. که پیسې له وړاندې ورکړشي نو پروګرام ددې تخنیکي وړتیا لري چې ټاکلې ټولې موخې تر لاسه کړي .*

## د ۲۰۰۹ زیږدیز کال له جنوري تر ډسمبر پورې دماین پاکۍ لاس ته راوړنې

* ۵۱،۷۴۳ دپرسونل ضد ماینونه ، ۷۴۶ دټانک ضد ماینونه او ۱،۱۵۲،۷۳۸ نا چاوده توکي له منځه ویوړل شول.
* ۲۸۰ مسکونی سیمی دماینونو ځخه پاکې اعلان شوې .
* ۴۳۰،۹۸۹ ښځو او نجنونو او ۶۵۵،۰۱۸ لویانو او هلکانو ته دماین دخطر په اړه زده کړې ورکړل شوې.

## دماين پاكولو ستراتيژي

دافغانستان دماين پاكولو د ستراتيژي له مخې چې افغانستان بايد د ماينونو او ناچاوده توكو له شتون څخه پاک هيواد وي، چيرته چې خلک وکړای شي په امن كې ژوند وکړي او دهيواد دپرمختګ لپاره لاره هواره كړي او دماينونو او ناچاوده توكو څخه اغيزمن كسان وکړای شی په ټولنه كې په كار بوښت شي ، حقونه او غوښتنې يې په ګوته شي او اعاده شي.

ددې لپاره چې دغه لرليد په حقيقت بدل شي دافغانستان دملي پرمختيا د ستراتيژي په چوكاټ كې ځينې موخې ټاكل شوي چې داوتاوا دكنوانسيون دپريكړو سره سمون لري.

## دماين پاكي چارو دملي ظرفيت لوړول



دچهار آسیاب په ولسوالی کی د MDDدماین پاکولو ټیمونه - جون ۲۰۰۹

دافغانستان دماين پاكی چارو دهمغږي مركز ( MACCA ) چې دملګرو ملتونو له خوايې ملاتړ كيږي دپيښو سره دمبارزې درياست ( ANDMA ) په چوكاټ كې دماين پاكولو درياست ( DMC ) له ليارى دګډ كار لپاره لاره هواره كړه تر څو په افغانستان كې دماين اړوند چارو دپلان جوړولو ، هم غږی او دكيفيت دڅنه كولو چارې تر سره كړي . دوزارتونو تر منځ وروستی غونډه دمارچ دمياشتې په ترڅ كې تر سره شوه چې پكې دمس عينک دموضوع تر څنګ پر نورو مهمو موضوعاتو بحث وشو او دوزارتونو تر منځ معلومات شريک شول.

## دافغانستان دماين پاكی پروګرام او دافغانستان دماين پاكي چارو دهمغږي مركز په اړه معلومات

دماين پاكی بشري پروګرام په كال ۱۳۶۸ كې په افغانستان كې رامنځ ته شو چې دماين پاكي ټول اركان پكې نغښتي دی لكه تبليغات ، سروې ، دماينونو پاكول ، دماينونو دزيرمو له منځه وړل ، دماينونو دخطر په اړه زده كړې او دماينونو له قربانيانو سره مرسته. دافغانستان دماين پاكی پروګرام دملګرو ملتونو د وجهي صندوق او نورو دوه اړخيزو او څو اړخيزو لارو تمويليږي.



دسمنګانو په ولایت کې دماین پاکي عملیات

په افغانستان كې دماين پاكي پروګرام ټولې همكاره موسسې چې په مجموعی ډول دافغانستان دماين پاكې په نوم پيژندل كيږي په نړی كې تر ټولو لوی دماين پاكی پروګرام جوړوي .دغه ټولې موسسې په افغانستان كې دماينونو دپاكولو په برخه كې ۲۰ كلنه بريالی سابقه لري چې ۱۲،۰۰۰ په ماينونو ككړې سيمې يې دهيواد په كچه پاكې كړي. دافغانستان دماين پاكی پروګرام چارې دافغانستان دماين پاكي چارو دهمغږې مركز له خوا همغږې كيږي چې دملګرو ملتونو له خوا تمويليږي. دافغانستان دماين پاكي چارو دهمغږې مركز په پروان ، هرات ، جلال آباد ، مزار ، كندز ، ګرديز ، او قندهار كې سيمه ييز دفترونه لري چې دماين پاكي چارو دهمغږې دسيمه ييزو مركزونو په نوم ياديږي.

**هغه هيوادونه چې دافغانستان دماين پاكی له پروګرام څخه ملاتړ كوي:**

